# A Research of the Historical Background and Foundation of Pashto Adabi Malgari Bori

# د پښتو ادبي ملګري بوري تاريخي شاليد او قيام ؛ يوه تحقيقي جايزه

**Sameullah Samim***
**Noor Muhammad♣**

**ABSTRACT:**

Pashto Adabi Malgari Bori is an organization of writers and poets of Loralai, which was established in 1968 according to its official records but other oral and written reports show it from 1962 and 1965. The founder of this organization is Rub Nawaz Mail. This organization has its own historical background, the last link of which is from Loralai Week(1952). Loralai Week is the beginning of literary and cultural activities in Loralai. The journey started from Loralai Week has passed through the stages of different literary organizations, but finally in 1968, was named Pashto Adabi Malgari Bori. It has been more than half a century so far, but this literary organization has still kept its literary activities going.

**Key words**: Adabi Malgarai Borai, literary activities, literary organizatio

## د پښتو ادبي ملګري بوري تاريخي شاليد

بوری (لورالايي) د پښتنو او خاص کر د کاکړ قبيلې هغه زوړ ټاټوبی دی چې وګړي يې په کاکړي لهجه کښې خبرې کوي، د بوري دې مردم خېزې سيمې ډېر شاعران، اديبان او ليکوالان پيدا کړي دي چې پکښې ربنواز مايل، سعيد ګوهر او سيد خير محمد عارف لوی نومونه دي. د پښتني فولکور په ساحو کښې د بوري مقام جوت دی. د کاکړۍ غاړو، د اتڼ د نارو او نورو ډېرو اصنافو اره سيمه دغه خاوره ده. د دې ځای

* Research Scoler Loralayi University Balochistan.
♣ Lecturar of Pashto Department University of Loralayi Balochistan

لیکوالان او شاعران په پښتو ادب کښې په ډېره ښه خوله یادېږي آن تر دې چې په پښتو ادب کښې د ځانګړي مکتب خاوندان یادېږي. د پښتو ادب د دغه تکړه لیکوالانو تاتوبی بوری خپله یوه ادبي سابقه لري، د تاریخ په اوږدو کښې که وکتل شي نو دلته د شفاهي ادب د یوې لویې خزانې پرته د لیکنـي ادب هم یوه زړه او خوندوره پانګه په نظر راځي. د بوري د تابناکې ادبي فضا تر شا د دې ځای د خلګو سپکولر او پراخ ذهن او له پښتو سره د دوي مینه د سهار د سترګې په څېر ښکاره ده. د بوري د دغه ادبي او کلتوري سرګرمیو ابتدا د لورالایي ویک څخه کېږي او بیا تر دا نن ورځې د پښتو ادبي ملګري بوري له خوا د مشاعرو، سټډي سرکلز او سیمینارونو په ښه کښې دوام لري. له هم دغه لورالایي ویک څخه پیل شوی سفر نن د پښتو ادبي ملګري بوري په نوم د خپل منزل په لوري جاري دی. د پښتو ادبي ملګري بوري په تاریخي پس منظر کښې هم دغه لورالایي ویک او ورپسې نور ادبي تنظیمونه دي چې وروسته یې د پښتو ادبي ملګري شکل اخیستی دی. دلته به د هر تنظیم مختصر ذکر وشي.

## لورالایي ویک

د لورالایي ویک په نامه له ۱۹۵۲ع څخه د پسرلي په موسم کښې د یوې هفتې نمانځل کېدل شروع شوي وو چې ادبي او کلتوري فعالیتونه یې پیل کړي وو، په اوسني وخت کښې دا هفته نه نمانځل کېږي، دا هم نه ده معلومه چې دا هفته څومره وخت و نمانځل شوه، خو د ۱۹۵۲ع څخه بیا تر ۱۹۸۱ع پورې د دې هفتې نمانځل کېده یقیني دي ولې چې اروابناد سیال کاکړ صاحب په خپل کتاب (پښتو او پښتانه په سهیلي پښتونخوا کې) د لورالایي ویک په اړه د حال صیغه استعمالوي او وایي چې نمانځل کېږي. لکه دوي چې وایي:

> ((لومړی وار په ۱۹۵۲ع کال کي لورالایي ویک شرو او
> په خاصو ادبي او کلتوري فعالیتونو یې پیل وکی،
> اوس هر کال د پسرلي په موسم کي لورالایي ویک

نمانځل کېږي. دغه ويک د پښتني کلتور ښکارندوی
او پښتو مشاعرې يې په يادولو ارزي"(١).

د شوهدو څخه داسې ښکاري چې لورالايي ويک د دې سيمې يوه کلنۍ ثقافتي مېله وه چې په ١٩٥٢ کښې يې انعقاد پيل شوی ؤ. د دې مېلې دغه ثقافتي فعاليتونو خلک د ادبي سرګرميو خوا ته هڅولي دي چې لااوس هم دوام لري.

## پښتو ادبي ټولنه:

د لورالايي ويک پس په بوري کښې په لومړي ځل د يو ادبي تنظيم تر چترۍ لاندې د ادبي سرګرميو ابتدا د پښتو ادبي ټولنې کوټې د څانګې له پرانستلو څخه شوې ده. د پښتو ادبي ټولنې د بوري د څانګې په اړه سيال کاکړ وايي چې؛

,, پښتو ادبي ټولنې په بوري کښې خپله څانګه درلوده. دغه څانګه په ١٩٥٨ ع کال کښې د جنوري پر لومړۍ تاريخ پرانستل شوه او لاندي کسان يې عهدېداران وټاکل شو:

صدر ډاکټر رب نواز، نايب صدر ډاکټر عبدالقادر، لوی سکتر بازمحمد، ووړ سکتر محمد صديق، خازن نصرت خان، د مطبوعاتو او نشراتو ناظم محمد صفدر،، (٢)

## علمي ادبي ثقافتي انجمن:

د لورالايي ويک نه پس باقاعده يو تنظيم چې د بل يو تنظيم څانګه نه وه،د علمي ادبي ثقافتي انجمن په نامه کال ١٩٦٢ع په بوري کښې جوړ شوی و چې د اردو او پښتو ژبې ګډ يو غير سرکاري تنظيم و، دلته د اردو او پښتو ګډې مشاعرې کېدې. د دې تنظيم د تنقيدي نشستونو،ادبي غونډو او سمينارونو په اړه سيال کاکړ صاحب هيڅ نه

دي لیکلي، دومره وایي چي په بوري کښې د پښتو مشاعرو ابتدا هم د دې تنظیم نه شوې ده، لکه چي وایي:

> ،،د بوري په خاوره کي دغه انجمن په ۱۹۶۲ع کال کي د اردو او پښتو ادیبانو د ګډو هڅو په نتیجه کي جوړ او لاندي کسان یې عهدېداران وټاکل سو:
>
> صدر رب نواز مایل، جنرل سیکرېټري نور محمد همدم، خزانچي تابش نګینوي،
>
> او دغه کسان د نوموړي انجمن غړي و منل شو: لکه سعید ګوهر، سید خیر محمد عارف، مولوي عبدالخیر، حافظ عبد القیوم، رضي الدین، حضرت علي او سید محمد ناصر.
>
> په بوري کي د پښتو مشاعرې ابتدا: هو، په بوري کي د همدغه انجمن په وسیله لومړی وار پښتو مشاعره پیل سوه. څرګنده دي وي، چي د نوموړي انجمن له خوا څخه د پښتو او اردو ګډې مشاعرې کېدلې دغه پنځلس ورځنۍ مشاعرې کله د بوري په پرایمري سکول کي، ځیني وخت په هائي سکول کي، کله به د حاجي دین محمد ناصر پر کور باندې او ځیني وخت بیا د ډاکخانې په دفتر کي کېدلې. په شرو کي به د پښتنو شاعرانو شمېر زیات و، خو بیا وروسته اردو وال باندې زیات شؤ. موږ د علمي ادبي او ثقافتي انجمن خدمات ستایو او د پښتو په ادبي تاریخ کي ځای ورکوو"(۳)

سیال کاکړ په هم دغه کتاب کښې د لورالایي ویک تاسیس په ۱۹۵۲ کښې یادوي او ورسره د هغو له خوا شوې مشاعرې ستایي خو چي بیا د ،، په بوري کي د پښتو مشاعرې ابتداء " تر سرخط لاندې لیک

کـوي نـو بیـا د مشـاعرې ابتـدا لـه (علمـي ادبـي ثقـافتي انجمـن) څخـه ښـیي. د انجمـن تاسـیس د دوی پـه قـول پـه ۱۹۶۲ کښـې شـوی دی. یـا خـو (لـورالایي ویـک) یـوه علاقـایي مېلـه غونـدې یـوه سلسـله تېـره شـوې ده چـي د ثقـافتي سـرګرمیو پرتـه یـې څـه (ادبـي سـرګرمۍ لکـه مشـاعرې او تنقیـدي نشسـتونه) نـه دي کـړي، یـا یـې د مشـاعرو جـوړول لـه ۱۹۶۲ وروسـته شـروع کـړي دي، یـا بیـا داسـې ده چـي د لـورالایي ویـک مشـاعرې د اردو مشـاعرې وې خـو چـي غلمـي ادبـي ثقـافتي انجمـن راغلـی نـو هغـه د پښـتو مشـاعرې هـم دود کـړې. خـو فـي الحـال د پښـتو مشـاعرو د ابتـدا کرېـډټ علمـي ادبـي ثقـافتي انجمن ته ځي.

## بزم ثقافت:

د دې نـه پـس یـو بـل تنظیـم پـه بـوري کښـې کـال ۱۹۶۴ع د بـزم ثقافـت پـه نـوم جـوړ کـړل شـوی و او د هغـه وخـت د ډپټـي کمشـنر تـر سرپرسـتۍ لانـدي و چـي مـالي مرسـته یـې هـم د ده پـه غـاړه وه. دا تنظـیم هـم د دې نـورو تنظیمونـو پـه شـان د اردو او پښـتو ګـډ تنظـیم و او د دې تنظـیم تـر سرپرسـتۍ لانـدې پښتو او اردو ګډې مشاعرې کېدې.

د دې تنظیم په اړه اروابناد سیال کاکړ صاحب داسې لیکلي دي:

> ،،په بوري کي دغه ادبي انجمن په۱۹۶۴ع کال کي د دولت له خوا جوړ او مالي مرسته ورسره کړې. سرپرست یې همېشه دبوري ډپټي کمشنر او دا وخت یې دغه کسان عهدېداران دي: لکه صدر شیخ غلام صابر اېډوکیټ، نایب صدر ډاکټر نصیر الدین جوګیزی، جنرل سیکرېټري سعید ګوهر. هو: د بزم ثقافت له خوا د پښتو او اردو ګډې مشاعرې کېږي او د دواړو ژبو لیکوال په خورا زیات صمیمیت او کامله همکاري خاصي ورځي نمانځي. موږ د بزم ثقافت له خوا د پښتو د انکشاف په لار کي خدمتونو ته په درنه سترګه ګورو. او مایل، ګوهر او عارف د تبریک وړ بولو".(۴)

## بزم سخن:

د بـزم سـخن پـه نامـه یـو بـل پښـتو او اردو ګـډ تنظـیم پـه کـال ۱۹۶۵ع کښــې جـوړ شـوی ؤ. پـه دې تنظـیم کښـې علمـي ادبـي او ثقـافتي انجمـن هـم شامل کړل شوی ؤ. دلته هم د اردو او پښتو ګډې مشاعرې کېدې.

د دې تنظیم په اړه ارواښاد سیال کاکړ صاحب داسې لیکلي دي:

"په دې نامه دبوري لیکوالو، چي اردو وال او پښتانه پکي شامل وو، په ۱۹۶۵ع کال کي یو ادبي انجمن جوړ کړی. ځرګنده دي وي چي علمي، ادبي او ثقافتي انجمن په بزم سخن کي شامل کړ سو، د نوي چوڼ په نتیجه کي لاندي کسان ددې نوي تنظیم عهدېداران وټاکل شو:

صدر رب نواز مایل، جنرل سیکرېټري سید نسیم الدین نسیم، جاینټ سېکرېټري سعید ګوهر، پرو پېګنډه سیکریټري خورشید احمد افروز، خزانچي تابش نګینوي. د بزم سخن له پلوه تر یوې لنډې مودې پورې د پښتو او اردو ګډې مشاعرې وسوې. موږ دنوموړي انجمن له خوا د پښتو په لار کي ځیني خدمتونه ستایو او په ښه خوله یې یادوو". (۵)

د لـورالایي ویـک لــه خــالص ثقـافتي سـرګرمي څخـه زېږېـدلې ادبـي فضـا اولـس او شـاعران هڅـولي چـي د خپلـو ادبـي هلـو ځلـو دپـاره یـو تنظـیم جـوړ کـړي. لـومړی دوي د پښـتو ادبـي ټـولنې ځانګـه پرانیسـته، بیـا خپـل یـو تنظـیم (علمـي ادبـي ثقـافتي انجمـن) جـوړ کـړ چـي پښـتو او اردو دواړو ژبـو تـه یـې کـار کـاوه. ورسره پـه څنـګ کښـې تـر سـرکاري سرپرسـتۍ لانـدې (بـزم ثقافـت) جـوړ شـو. خـو بیـا وروسـته د دې دواړو پـه ګـډون بـزم سـخن جـوړ شـو چـي دواړو ژبـو (اردو او پښـتو) تـه یـې کـار کـاوه. خـو بیـا وروسـته یـو داسـې تنظیم جـوړ شـو چـي هـم د لـورالایي ویـک رنګـه ثقـافتي فعالیتونـه لـري، هـم د بـزم علمـي ادبـي ثقـافتي انجمـن رنګـه خودمختـاره او باقاعـده دی، هـم د بـزم سـخن رنګـه د ټولـو ګـډ او غیرسـرکاري دی. خـو ځانګړتیـا لـري او هغـه

دا چې دا تنظیم یوازې پښتو ته مشخص دی. دا تنظیم د بوري د شاعرانو (پښتو ادبي ملګري بوری) دی چې سیال کاکړ یې په اړه داسې ویلي دي؛

"په بوري کي د خوا خوږو لیکوالو دغه ادبي انجمن په ۱۹۶۵ع کال کي تشکیل اولاندي کسان یې عهدېداران وټاکل شو: صدر سید خیر محمد عارف، نایب صدر رب نواز مایل، جنرل سیکرېټري سعید ګوهر، پروپېګنډه سیکرېټري وزیر محمد سوالي، خزانچي محمد اسماعیل سایل".(۶)

دلته دا خبره په پام کښې نیول اړینه ده چې لورالایي ویک او بزم ثقافت تر ۱۹۸۱ع پورې یقیني دي. د سیال کاکړ صاحب د کتاب په حواله دا خبره په یقین سره کېدای شي، ولې چې کتاب په کال ۱۹۸۱ع چاپ دی او د دې دواړو په اړه د حال صیغه استعمالوي. د لورالایي ویک په هکله وایي چې هر کال په پسرلي کښې لمانځل کېږي او د بزم ثقافت په هکله وایي چې هر کال مشاعرې کوي. د پښتو ادبي ملګري بوري د پیلېدو محرکاتو ته اشاره وشوه خو دلته به تر جلا سرلیک لاندې هم وکتل شي.

## د پښتو ادبي ملګري بوري د پیلېدو محرکات

بوری د پښتون وطن هغه تاریخي سیمه ده چې وخت نا وخته یې ډېر لوی خلک پیدا کړي دي. د اردو ژبې لوی نقاد و ادیب ګوپي چند نارنګ، راج کمار او د ځینې اثارو له مخه زرتښت سپین تمان د دې تاریخي سیمې بچي بلل شوي دي. د بوري دغه مردم خېزې سیمې د انګرېز سامراج خلاف هم خپله ونډه اچولې او غازیان یې پیدا کړي دي. غازي ارسلا خان و که ساوڼ موسا خېل د دې خاورې بچي وو. که موږ د تاریخ په اوږدو کښې وګورو نو د بوري سیمه یو سېکولر او روڼ انده سیمه وینو. دلته د کمرې امی روایت، د دراوی روایت او په اوس وخت کښې د سینما رواج د بوري د رواداري او روشن فکري ښکاره مثالونه

دي. د کمـري امـې او د پښـتني فولکلـور پـه دې زانګـو کښـې د باقاعـده ادبـي سرګرميو ابتـدا هـم د شـا و خـوا سـيمو څخـه تـر ټولـو لـومړی پيـل شـوې دي. د پښتو ادبي ملګري قيام هم د دې سلسلې يوه کړۍ ده.

عمومـاً کـه پـه بـوري کښـې د ادبـي تنظيمونـو د پيلېـدو د محرکـاتو پـه بـاب خبره کېږي نو داسې ويـل کېـدای شي چي کله پـه بوري کښـې لورالايي ويـک نمانځـل شـرو شـوي وو او هلتـه د کلتـوري فعـاليتونو سـره د مشـاعرو اهتمـام هـم کېـدو نـو دې ويـک شـاعرانو تـه يـو پلېټ فـارم پيـدا کـړو، هلتـه يـې د داد کسـان ومونـدل، شـاعر پـوه شـو چـي کـوم احسـاس زه لـرم هغـه د اولـس ګـډ احسـاس دی ځکـه خـو يـې د خپـل اسـتعداد او لياقـت د لا روښـانولو دپـاره د باقاعـده کـار ضـرورت محسـوس کـړ. د هـم دغـه ضـرورت دپـاره يـې ادبـي تنظيمونـه جـوړ کـړل. ويـل کېـدای شي چـي د دې تنظيمونـو د پيلېدو تر شا د لورالايي ويک ډېر لوی اثر لاس دی.

د پښـتو ادبـي ملګـري بـوري د پيلېـدو د محرکـاتو پـه اړه داسـې نظـر وړانـدي کېـدلای شـي چـي علمـي ادبـي ثقـافتي انجمـن، بـزم ثقافـت او بـزم سـخن کښـې د پښـتنو اديبـانو رکنيـت و خـو هلتـه د پښـتو اديبـانو او شـاعرانو هغـه ادبـي تنـده نـه ماتېـده کومـه چـي يـوازې د پښـتو پـه تنظـيم کښـې ممکنـه وه او بلـه دا چـي پـه صـحيح معنـا د پښـتو ژبـې باقاعـده نماينـدګي نـه کېـده، دا لاهـم ويـل کېـدای شـي چـي هغـه وخـت داسـې اکېډميک اداري نـه وې کـومې چـي اوس دي او د پښـتو ادب خـدمت ډېـر ښـه پـه زور و شـور سـره ترسـره کـوي، اثـار چـاپوي. ورسـره دا خبـره هـم کېـدای شـي چـي هغـه وخـت کښـې د يـو شـاعر يـا ليکـوال د رهنمـايي او روزنـې دپـاره بلـه داسـې ذريعـه نـه وه کومـه چـي اوس د پوهنتونونـو يـا داسـې نـورو ادارو لـه لاري کېږي ځکـه خـو د هغـه وخـت د حـالاتو د تقاضـې عـين مطـابق د لـورالايي شـاعرانو د يـو تنظـيم اړتيـا حـس کـړه چـي هغـه بـه هـم د ليکـوال روزنـه کـوي او هـم بـه د اظهـار دپـاره موقعـه ورکـوي. هـم دا هغـه حـالات دي چـي د پښـتو ادبـي ملګـري د پيلېـدو لامـل شـوي دي. د يـو داسـې تنظـيم اړتيـا بهرحـال هـر وخـت وي چـي هغـه د ملکـي ايـين سـره د ټکـراؤ پرتـه د پښـتو او پښـتو ادب خـدمت پـه خلـوص او خاموشـۍ سـره وکـړي. د حـالاتو د کـړکيچ پـه

وړانـدې د تـدبر، تحمـل او اسـتقامت څخـه کـار واخلـي او پښـتو ژبـې او ادب تـه پېرزوینـې وکـړي. هـم دا هغـه عوامـل دي چـي د پښـتو ادبـي ملګـري بـوري د قیام او پېلېدو سوب شوي دي.

سـیال کـاکړ د پښـتو ادبـي ملګـري قیـام د دې ځـای د شـاعرانو همـت او مړانه بولي، لکه چي وايي؛

"بوری د پښتنو هغه لرغونی ټاټوبی، چي خلګ يې په کاکړي ګړدود کي خبري کوي. په دې تاریخي سیمه کي ادیبان او شاعران پیدا سوي، چي د هغو په مړانه په دغه خاوره کي د پښتو ډېوه بله سوې او تر اوسه پورې د دوی په همت روښانه ده.

هو: دبوري په لیکوالو او شاعرانو کي دا افتخار د رب نواز مایل، سعید ګوهر، سید خیر محمد عارف او وزیر محمد سوالي په برخه، چي ګرانه پښتو يې ژوندۍ ساتلې او د پښتو په میدان کي يې ځیني شاعران او ادیبان روزلي دي. موږ د نوموړو لیکوالو ادبي خدمات ستایو"(۷)

## د پښتو ادبي ملګري بوري قیام

د شـلمې پېړۍ ددویـم نیمـي پـه دویمـه لسـیزه کښـې پـه لـورالایي کښـې د ښـاغلي ربنـواز مایـل پــه سرپرسـتۍ کښــې د پښــتو ادبــي ملګــري بــوري بنسـټ ښـوو شـوی دی خـو د کـال پـه اړه یـې اخـتلاف دی څـوک یـو کـال ښـيي، څـوک بـل کـال. دلتـه بـه دا اخـتلاف ټـول راوړل شـي، ټـول داخلـي او خـارجي شـهادتونه بـه پرتلـه شـي او د تحلیـل و تعـدیل پـس بـه یـوه تنیجـه وړاندې کړل شي.

د پښـتو ادبـي ملګـري د قیـام پـه هکلـه بـه د تنظیـم خپـل رجسـټر څخـه د داخلـي شـهادت پـه توګـه کـار واخیسـتل شـي چـي پکښـې د تنظـیم د قیـام کال ۱۹۶۸ ښوول شوی دی؛

"ابتدائي **میټنګ** برائې تنظیم پښتو ادبي ملګري لورالایي.

نن غرمه په دولسم (12) اکتوبر 1968ء د سعید ګوهر په کوټه(بيټک) کې یوه ناسته وسوه په دې ناسته کې پرېکړه وسوه چي یو پښتو ادبي تنظیم به جوړ کړو چي د پښتو زبي د خدمت او پر مخ تګ دپاره کار وکړی. د تنظیم نوم په اتفاق رائي سره پښتو ادبي ملګري لورالایي وټاکل سو په ناسته کې دې کسانو ګډون وکړی. [الکه]
رب نواز مائل(2) خیر محمد عارف (3) عبدالمالک زهیر(4) اسماعیل سائل (5) عبدالرشید فریادي (6) وزیر محمد سوالي(7) حاجي میرزا خان پېچي (8)عمرگل عسکر (9)سرور سودائی (10)کریم بریالی (11)بلوچ خان اکا (12) تور خانی او نور ډیر کسان وو په ناسته کښي دا پرېکړه هم وشوه چي تنظیم به آئین جوړوی انتخابات به کوي او غیر سیاسي ادبي خدمات به ترسره کوي"(۸)

د پښتو ادبي ملګري د قیام په اړه د خارجي شهادت په توګه د سیال سیال کاکړ کتاب (پښتو او پښتانه په سهیلي پښتونخوا کې) دی چي هغه پکښې د پښتو ادبي ملګري بوري د قیام او تاسیس کال ۱۹۶۵ یاد کړی دی او لیکلي یې دي چې؛

"په بوري کي د خوا خوږو لیکوالو دغه ادبي انجمن په ۱۹۶۵ع کال کي تشکیل اولاندي کسان یې عهدېداران وټاکل شو:

صدر سید خیر محمد عارف، نایب صدر رب نواز مایل، جنرل سیکرېټري سعید ګوهر، پروپېګنډه سېکرېټري وزیر محمد سوالي، خزانچي محمد اسماعیل سایل. څرګنده دي وي، چي یو څو میاشتي وروسته عارف صدارت پرېښوو او له نوي سره څخه لاندي کسان د پښتو ادبي ملګري عهدېداران وټاکل شو:

صدر سعید ګوهر، جنرل سیکرېټري خیر محمد عارف، خزانچي وزیر محمد سوالي.

هو: په سهېلي پښتونخوا کي دبوري پښتو ادبي ملګري د ځینو لیکوالو په وسیله یو فعال تنظیم ګرځېدلی او دا وخت زموږ په سیمه کي د ځان ساری نه لري. موږ د پښتو ادبي ملګري طرحي او غیر طرحي مشاعرې دغه راز تنقیدي غونډې ستایو او د پښتو د ادب په تاریخ کي یو هسک ځای ورکوو.

دا وخت (۱۹۸۱، محقق) د پښتو ادبي ملګري عهدېداران په دې ډول دي:

سرپرست رب نواز مایل، صدر سید خیر محمد عارف، جاینټ سیکرېټري ګل خوستی، پروپېګنډه سېکرېټري میرزا خان پېځی.

هو: دا وخت د پښتو ادبي ملګري څانګي په ږوب، پښین، دکی او موسا خېل کي خلاصي شوي او ملګري ترخپله وسه پورې پښتو ته خدمت کوي.

خدای دي وکړي چي پښتو ادبي ملګري د مشاعرو او ادبي غونډو په څنګ کي نوي څېړني پیل او پښتو کتابونه خپاره کي. د پښتو مزل یوازي په مشاعرو او تخریبي چارو نه رالنډېږي. ښښتن دي وموږ او تاسي ته دپښتو په لوی میدان کي د صحي کار کولو توفیق راکي"(۹)

ښاغلی محمود ایاز چي د پښتو ادبي ملګري په باني غړو کښې دی. هغه د پښتو ادبي ملګري بوري له ملګرو سره یو ادبي سفر کړی دی او د دې سفر حال یې په یوه سفرنامه (دیدن ته دي ناوخته راغلو) کښې لیکلی دی. په دې سفر نامه کې دی د پښتو ادبي ملګري د قیام په هکله

هم غړېدلی دی او د هغه د قیام کال یې ۱۹۶۲ یاد کړی دی.د پښتو ادبي ملګري د قیام په اړه یې په خپله دې سفرنامه کښې داسې لیکلي دي:

"پښتو ادبی ملګری له ۱۹۶۲ع څخه د محترم رب نواز مائل په سر پرستۍ کښي کار کوي. دې ادبي ډلې ته دا اعزاز حاصل دی چي دې تنظیم ډېر نومورړي قلم کار او لیکوال د ادب میدان ته راوستل- لکه سعید ګوهر، سید خیر محمد عارف، عبدالکریم بریالی، سرور سودائی- ارواښاد سید محمد ګل شاه خوستی، ارواښاد وزیر محمد سوالی، عمر ګل عسکر، عبدالباري اسیر، راز محمد راز او دغسی نور ډېر.،، (۱۰)

بل ځای یې داسې لیکلي دي:

"پښتو ادبی ملګری له ۱۹۶۲ع څخه د ادب په کار او قطار اخته دی- زموږ دغه ادبی تنظیم بې شمېره مشاعرې او تنقیدی نشستونه په خپل باقاعده تسلسل سره تراوسه پوری جاری ساتلی دی- زما خیال دا دی چی د جنوبی پښتون خوا تر ټولو محرک ادبی تنظیم هم دغه تنظیم دی چی و ادب ته ئې ډېر لوی او د ویاړ وړ ادبی شخصیتونه ور کړل- لکه رب نواز مائل، سعید ګوهر، سید خیر محمد عارف، عبدالکریم بریالی، سرور سودائي، سید محمد ګل شاه خان خوستی، عمر ګل عسکر او دغسې نور ډېر- د رب نواز مائل صاحب په سرپرستۍ کښې دغه ادبی ډله نن هم پخپل کار هغسی بوخته ده لکه څلوېښت کاله مخکښې چی وه".(۱۱)

دغه رنګه یو بل لیکوال سید خیر محمد عارف چي د پښتو ادبي ملګري بوري باني غړی دی او لومړی صدر یې هم پاته شوی دی. د پښتو اکېډمۍ کوټې صدر هم پاته شوی دی. دی هم لکه د محمود ایاز د

پښتو ادبي ملګري بوري د قیام کال ۱۹۶۲ یادوي. هغه د پښتو ادبي ملګري د قیام په هکله دجشن ګوهر د سېمینار د مقالو چاپ مجموعې "سعید ګوهر سعید ګوهر دی اشنا" کښې د (پیل) تر سر خط لاندې داسې لیکلي دي:

"دلته باید دا او وایم چې د پښتو ادبي ملګرو، دغه فعال تنظیم له ۱۹۶۲م کال څخه رانیولې تر دا دمه د تنقیدی مجلسونو اهتمام او پر بېلو بېلو شخصیاتو باندې د فن او فکر په حواله کار شوی دی دغه تنظیم ته دا اعزاز حاصل دی چې د ژوند یو قدرداني یې د هغوئی په ژوند کړې ده، چې د "جشن ګوهر" لمانځل یې ژوندی ثبوت دی. تر دې له مخه په کوټه کی جشن سید محمد رسول فریادی، د مرحوم وزیر محمد سوالي سره ماځیګری، د جشن رب نواز مائل لمانځل هم د پښتو ادبي ملګرو برخه ګرځېدلی دی".(۱۲)

د هم دوي له لارې د پښتو ادبي ملګري بوري د قیام په هکله د سعید ګوهر دریځ ښکاره کېږي چې دوي وایي هغه یې ۱۹۶۵ ښیي او دا هم وایي چې د دې تنظیم نوم ربنواز مایل تجویز کړی ؤ. دوي په خپله مقاله ,,زموږ نایابه ګوهر،، کښې داسې لیکلي دي:


"بیا مونږ دواړه( سعید ګوهر او خیر محمد عارف) د مائل صاحب سره، د ده په صف کي اودرېدو او د ادب په دې امام پسې مي نیت اوکړو او بیا ډېر زر مي د ربنواز مائل په مشرئ کي ثقافتي، سماجي، ادبي انجمن جوړ کړو خو لږ وخت پس، زموږ د څړه توب په بالاخانه کي، ما، دغه ګوهر، او مرحوم وزیر محمد سوالي، د پښتو ادبي انجمن، په نامه د یو بل انجمن د جوړولو تابیا اوکړه، زما په خیال د ۱۹۶۲م کال ؤ. له ماسره چې کوم دلائل دي، هغه پر خپل ځای، خو سعید ګوهر دا ۱۹۲۵م کال بولي د ګوهر دلائل پر خپل ځای، زما په خیال ودې نوي

انجمن ته ربنواز مائل د پښتو ادبي ملګرو نوم ورکړو". (۱۳)

د دې نه علاوه د دې تنظیم اوسنی صدر رشید حقمل [14] او د دې تنظیم ممبران پروفیسر یونس نورزی [15] او مالک زهیر [16] هم د دې تنظیم د قیام کال ۱۹۶۲ع ښيي.

دلته باید دا هم ذکر وشي چې سیال کاکړ په خپل کتاب کښې لیکلي دي چې په کال ۱۹۶۲ع علمي ادبي ثقافتي انجمن جوړ شوی او په کال ۱۹۶۵ع کښې بزم سخن جوړ شوی چې علمي ادبي ثقافتي انجمن هم په دې بزم سخن کښې ضم کړل شو او په دغه کال بزم ثقافت هم جوړ شوی دی چې د هغه وخت د ډپټي کمشنر تر سرپرستۍ لاندې و نو داسې ویل کېدای شي چې کسان هغه دي اول یې په یوه نامه ادبي سرګرمۍ کولې او وروسته یې بیا په بل نامه فعالیتونو ته دوام ورکړ، پښتو ادبي ملګري بوری هم هغه د لورالایي ویک د سلسلې کړۍ ده چې به ۱۹۵۲ کښې شوع شوې وه او هم د دغه علمي ادبي ثقافتي انجمن یا ثقافتي، سماجي، ادبي انجمن نوی صورت دی چې په ۱۹۶۲ع کښې یې بنیاد ښوو شوی ؤ. اوس دلته غلط فهمي دا ده چې څوک د ۶۲ خبره کوي د هغو په ذهن کښې د بوري د شاعرانو او ادیبانو ادبي فعالیتونه دي چې په هم دغه کال یې د علمي ادبي ثقافتي انجمن یا ثقافتي، سماجي، ادبي انجمن په نامه پیل کړي وو او څوک چې د۶۸ خبره کوي د هغوی په ذهن کښې د ادبي ملګري بوري نوم دی چې له علمي ادبي ثقافتي انجمن یا ثقافتي، سماجي، ادبي انجمن څخه پښتو ادبي ملګري بوری شوی دی. الغرض چې په بوري کښې د پښتو ژبې د خوا خواږو شاعرانو ادیبانو له خوا ادبي سرګرمۍ په ۱۹۵۷ کښې لاشروع شوې وې او ۱۹۶۲ کښې په باقاعده تنظیمي توګه د ثقافتي انجمن په صورت کښې پیل شوې وې او له ۱۹۶۵ / ۱۹۶۸څخه بیا تر نن ورځې د بوري د پښتو مینان د پښتو ادبي ملګري په نامه خپل ادبي او کلتوري فعالیتونه کوي خو د تنظیمي کاروایانو ریکارډ یې له ۱۹۶۸ څخه خوندي کولو ته پام شوی دی. تر دې له مخه لکه د پښتنو تاریخ درې کاله د تنظیم کاروایي زباني

کلامـي شـوې ده. د تحقیـق تقاضـا دا ده چـي د تنظـیم ریکـارډ تـر هـر څـه زیـات ارزښـت ورکـړل شـي. د دې داخلـي شـهادت لـه رویـه د پښـتو ادبـي ملګـري بـوري د جوړولـو پرېکـړه پـر دوولسـم اکتـوبر ۱۹۶۸ د سـعید ګـوهر پـه بېټهک کښې شوې ده.


ابتدائی میټنګ برائے تنظیم پښتو ادبي ملګري لورالائي

د رجستـړ دا پاڼـه سـاده زیـړ کاغـذ لـري چـي پـه شـنه روښـنایي، پـه کچـه (رېږدېـدلي) خـط وربانـدې لیـک شـوی دی. پـه (۱۹۶۸) کښـې چـي د اتـه (8) پـر عـدد غـور وشـي نـو پـه لـومړي ځـل سـړی پکښـې تېروځـي چـي دا اوس (8) دی او کـه یـو وار (5) لیکـل شـوی دی بیـا دوبـاره تـري (8) جـوړ شـوی دی. خو چـي بیـا پـه هـم دغـه پاڼـه کښـې لانـدې وکتـل شـي نـو بـه هلتـه یـو ځـای د (8) او بـل ځـای د (5) عـدد تـر سـترګو شـي. هـم دلتـه بیـا خبـره سـپینه شـي چـي کـه څـه هـم دغـه (8) لیکـل شـوی د قلـم پـه دوه حرکتـه دی خـو دی (8) نـه (5). او دا تـاریخ واقعـي هـم ۱۹۶۸ دی او هـم دغـه د پښـتو ادبـي ملګـري بـوري د قیام نېټه ده.

## د پښتو ادبي ملګرې بورې لنډ تعارف

د دې تنظیم نوم پښتو ادبي ملګري/ پښتو ریسرچ انسټیټیوټ دی، د دې تنظیم دا نوم اروانباد رب نواز مایل اپښی ؤ (سید خیر محمد عارف ۱۷چې د دې تنظیم اولنی صدر و او اوسنی صدر رشید حقمل ۱۸ هم دا وایي چې د دې تنظیم دا نوم رب نواز مایل اپښی ؤ)

د دې تنظیم اولنی دفتر په موجوده رشي لیبارټري کښې و (هغه وخت دلته د انفارمېشن سېنټر/محکمه اطلاعات دفتر و، د سعید ګوهر او سید خیر محمد عارف په دې دفتر کښې نوکرۍ وې) اوسنی دفتر یې په بورې ښار غازي ارسلا خان پارک کښې دی،دا تنظیم په مکمله توګه یو غیر سرکاري تنظیم دی، نه له یو سرکاري تنظیم سره منسلک دی، نه دا د کوم یو تحریک حصه ده، دا یو علمي، ثقافتي او ادبي تنظیم دی، د دې تنظیم له وخته سره په بلوچستان کښې ډېر ذیلي ښاخونه خلاص شوي وو، چې په هغو کښې بلوچستان پوهنتون، کوټه ښار، پښین، هرنایي، دکۍ، سنځاوۍ، موسی خېل او ږوب علاقې شاملې وې خو دا وخت له بورې سره سره صرف په دکۍ کښې د پښتو ادبي ملګري ذیلي څانګه سرګرمه ده او دا نورې څانګې یې په دې نامه ادبي فعالیتونه نه لري.

د دې تنظیم ذیلي ښاخونه خیر محمد عارف داسې یادوي:

بلوچستان پوهنتون: سهېل جعفر، فاروق سرور، دوې نجونې او داسې نور کسان یې ممبران وو د دوې په سرپرستۍ کښې د (ګهیځ) په نامه یوه مجله دوې ګڼې چاپ شوه چې بیا د خسارې له وجې بنده کړل شوه.

کوټه ښار: هلته یې ممبران سرور سودایي، در محمد کاسی، آغا محمد کاسی او داسې نور کسان وو.

پښین: کریم بریالی، عبدالباري اسیر او داسې نور کسان یې ممبران وو.

هرنایي: هلته یې مرتضی خان او داسې نور کسان ممبران وو.

دکۍ: افضل شوق او داسې نور کسان یې ممبران وو.

سنځاوی: مولوي عبدالخیر، مولوي نوراللہ او داسې نور ډېری کسان یې ممبران ول.

ږوب: هلته یې صدر کمال الدین کمال، جنرل سیکرېټري برملا خان برمول، خزانچي عمرګل عسکر او داسې نور کسان ممبران ول". (۱۹)

سیال کاکړ صاحب یې ذیلي شاخونه داسې یاد کړي دي:

"هو: دا وخت (۱۹۸۱، ولې چي کتاب په دغه کال چاپ شوی دی، محقق) د پښتو ادبي ملګري ځانګي په ږوب، پښین، دکۍ او موسی خېل کي خلاصي سوي او ملګري ترخپله وسه پوره پښتو ته خدمت کوي". (۲۰)

سیال کاکړ د موسی خېل ځانګه هم یادوي خو عارف صاحب په مرکه کښې وویل چي موسی خېل زما هېر دی.

د پښتو ادبي ملګري په اول آئین کښې د جز ۱ څخه تر ۶ پورې او جز نمبر ۱۴ کښې یې د دې تنظیم تعارف داسې شوی دی:

"بسم اللہ الرحمن الرحیم

اس ادارے کا نام پشتو ادبی ملگری/ پشتو ریسرچ انسٹیٹیوٹ ہو گا۔

اس ادارے کا مرکزی دفتر لورالائی بازار میں ہو گا۔

یہ ادارہ مکمل طور پر ایک غیر سرکاری ادارہ ہو گا نہ تو کسی سیاسی ادارے کا حصہ ہو گا نہ کسی سیاسی ادارے سے انضمام کر سکے گا اور نہ ملکی آئین کے خلاف کسی بھی تحریک کا حصہ بنے گا۔

یہ ایک علمی، ثقافتی اور ادبی ادارہ ہو گا یہ ادارہ انسانی انائیت کو ادب کے ذریعہ اجاگر کرنے کی کوشش کرے گا۔

اس ادارے کا مینو گرام دو خوشوں کے درمیان موم بتی کے شکل میں ہو گا جس کے درمیان پشتو ادبی ملگری اور P.R.I لکھا ہو گا۔

مستقبل میں اگر ضروری ہوا کہ اس ادارے کے برانچ صوبے کے مختلف شہروں میں کھولے جائیں تو وہاں ذیلی دفتر کھولے جا سکتے ہیں لیکن مرکزی دفتر لورالائی ہی میں ہو گا اور وہ ادبی ملگری کے مذکورہ موجودہ آئین اور مینو گرام استعمال کرنے کے پابند ہو نگے۔

پشتو ادبی ملگری کے سرگرمیوں کا دائرہ کار سردست پشتون علاقوں پر محیط ہو گا۔،، (۲۱)

ژباړه: د دې تنظيم نوم به پښتو ادبي ملګري/پښتو ريسرچ انسټيټيوټ وي.
د دې تنظيم مرکزي دفتر به په بوري ښار کښې وي. دا تنظيم به په مکمله توګه يو غير سرکاري تنظيم وي، نه به د يو سياسي تنظيم حصه وي، نه به يې له يو سياسي تنظيم سره انضمام کېږي او نه به د ملکي آئين برخلاف د يو تحريک حصه جوړېږي. دا به يو علمي، ثقافتي او ادبي تنظيم وي، دا تنظيم به انساني انانيت د ادب په ذريعه راپورته کولو هڅې کوي. د دې تنظيم لوګو به د دوو وښکيو په ميان کښې د موم بتۍ په شکل کښې وي چې د هغه په ميان کښې به پښتو ادبي ملګري او P.R.I ليکلي وي. په راتلونکي وخت کښې که ضروري و د دې تنظيم ښاخونه به د صوبې په مختلفو ښارونو کښې خلاص شي، هلته ذيلي ښاخونه خلاصولای شي خو مرکزي دفتر به په لورالايي کښې وي او هغه ذيلي ښاخونه به د ادبي ملګري مذکوره اوسنی آئين او لوګو د استعمالولو پاپنده وي.
د پښتو ادبي ملګري کار به صرف د پښتنو تر علاقو پورې محدوده وي.

**پايله**: پښتو ادبي ملګري بوری د لورالايي د اديبانو شاعرانو تنظيم دی چې د دفتري ريکارډ مطابق يې تاسيس په ۱۹۶۸ کښې شوی دی. خو نور زباني او ليکلي روايات يې له ۱۹۶۲ او ۱۹۶۵ څخه ښيي. د دې تنظيم باني ربنواز مايل دی. دغه تنظيم خپل يو تاريخي پس منظر لري چې آخري کړۍ يې د ۱۹۵۲ له لورالايي ويک څخه دي. لورالايي ويک چې په بوري کښې د ثقافتي فعاليتونو او سرګرميو ابتدا ده له هم دې څخه شروع شوی سفر د بېلا بېلو ادبي تنظيمونو تر پړاوونو تېر شوی دی خو با لآخر په ۱۹۶۸ کښې د پښتو ادبي ملګري بوري په نوم نومول شوی دی. تر اوسه پورې له نيمې پېړۍ څخه زيات وخت کېږي خو دا ادبي تنظيم لا خپلې ادبي سرګرمۍ جاري و ساري ساتلې دي او پښتو ژبې او ادب ته خپل ښه پېرزو کوي.

# حوالې


(1) سیال کاکړ، پښتو او پښتانه په سهیلي پښتونخوا کي(دویم ټوک)، (۱۹۸۱ع)، قلات پبلشرزکوټه، ۱۱۲، ۱۱۳م مخونه

(2) هم دغه اثر، ۵۴م مخ

(3) هم هغه اثر، ۱۰۷، ۱۰۸م مخونه

(4) هم هغه اثر ۱۱۲.م مخ

(5) هم هغه اثر ۱۰۹.م مخ

(6) هم هغه اثر ۱۱۰.م مخ

(7) هم هغه اثر، ۱۰۶، ۱۰۷م مخونه

(8) دفتري رجسټر، پښتو ادبي ملګري بورى، اول مخ

(9) پروفیسر سیال کاکړ، پښتو او پښتانه په سهیلي پښتونخوا کي(دویم ټوک)، (۱۹۸۱ع)، قلات پبلشرزکوټه، ۱۱۰، ۱۱۱م مخونه

(10) محمود ایاز، دیدن ته دي ناوخته راغلو، (۱۹۹۴ع)، پښتو ادبي ملګري بوري، ۲۲م مخ

(11) هم دغه اثر، ۹۹م مخ

(12) خیر محمد عارف، مرتب کرده(ارسلاخان کاکړ)، سعید ګوهر سعید ګوهر دې اشنا، (۲۰۱۱ع)، پښتو ادبي ملګري بورى، ۳، ۲م مخونه

(13) هم دغه اثر، مقاله( زموږ نایابه ګوهر) ۳۹، ۴۰م مخونه

(14) رشید حقمل، مرکه، ۲۰۲۳/۰۹/۲۵، ۵:۳۰، د پښتو ادبي ملګري بوري دفتر

(15) یونس نورزی، مرکه، ۲۰۲۳/۰۹/۳۰، ۵:۰۰، د پښتو ادبي ملګري بوري دفتر

(16) مالک زهیر، مرکه، ۲۰۲۳/۱۰/۰۲، ۴:۴۵، د عرایض نویس دکان، تحصیل روډ بورى( لورالایي)

(17) سید خیر محمد عارف، مرکه، ۲۰۲۳/۰۹/۰۴، ۲۷: ۵، پښتو اکېډمۍ کوټه

(18) رشيد حقمل، مرکه، ۲۰۲۳/۰۹/۲۵، ۳۰:۵، د پښتو ادبي ملګري بوري دفتر

(19) سيد خير محمد عارف، مرکه، ۲۰۲۳/۰۹/۰۴، ۲۷: ۵، پښتو اکېډمۍ کوټه

(20) سيال کاکړ، پښتو او پښتانه په سهيلي پښتونخوا کي(دويم ټوک)، (۱۹۸۱ع)، قلات پبلشرز کوټه، ۱۱۱م مخ

(21) زوړ آئين، پښتو ادبي ملګري بورى، ۱-۶ او ۱۴ مه نقطه